مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکترمحب زغم ۲۰۲۳/۰۳/۲۶

فاصله

دغه کلمې به څنګه ولولئ: اوروم – اوپهنتیجه - اوناپایه اوبې – اوله
که دغه کلمې د جملې په منځ کې همداسې راغلې وي، ممکن تاسې يې د قرينې له مخې سمې ولولئ خو دا تمه له مبتدي لوستونکو نه شو کولای. زوی مې په پنځم ټولګي دی. ها بله ورځ یې پښتو کتاب کې يو درس لوست، پوښتنه يې وکړه چې «اوښځې» څه معنا؟ حيران شوم چې دا نو څه بلا ده. که ګورم چې د «او» او «ښځې» تر منځ فاصله نشته. په هغه متن کې چې ما اقتباس څنې کړی دی، د پورتنيو کلمو او عبارتونو سمه بڼه ده: «او روم» منظور د روم ښار دی، «او په نتيجه ...»، «او ناپایه او بې ...»، «او له...»
يو څو وخته د يوې مجلې ايډيټر وم، لوی جنجال د ليکوالو په ليکنو کې د مسافې نه مراعاتول راته جوړ و. دا ستونزه په ډېرو ليکوالو او د ښوونځيو په ګڼو کتابونو کې شته. کله کله د مسافې نه ورکول يا بې ځايه فاصله د جملې مفهوم بدلوي. مثلاً د فلسفي په اړه د يوه ليکوال په مقاله کې دا جمله: «د خدای رحمت محدود وي.» حال دا چې مطلب يې دا وو چې ملايان د خدای رحمت محدودوي. ده د «محدودوي» په منځ کې له بې ځايې مسافې سره هماغه کار کړی و چې ملايانو غوښتل يعنې د خدای رحمت يې محدود کړی و. بل ځای کې يې ليکلي وو «تا ته او روم» دلته هم د «اوروم» په منځ کې، چې يوه کلمه ده، فاصله «او» «روم» جوړ کړی دی. په دې بل مثال کې بيا د مسافې نه ورکول، معنا بدله کړې ده: «نيکي اوبدي» يعنې يو څوک نيکي د ټوکر په شان اوبدي حال دا چې منظور يې «نيکي» او «بدي» دی.
څو ورځې د مخه مې د يوې مطبعې له ډيزاينر سره پر يوه کتاب کار کاوه. ده په ډېرو ځايونو کې د اضافت «د» له وروسته کلمې سره نښلولی و. «دافغانستان»، «دکتاب»، «ددې» ... ما ورته وويل چې تر «د» وروسته دې فاصله ورکړي، ده ويل چې «د» خو کومه معنا نه لري چې کلمه يې وګڼو او جلا يې وليکو. دا سمه ده چې د اضافت «د» او د ربط توري مستقلې کلمې نه دي خو کله چې په جمله کې راځي، بايد جلا وليکل شي که نه نو د متن لوستل به راته سخته کړي.
اکثره ليکوال تر هغو کلمو وروسته لازمه فاصله نه ورکوي چې په «ا، د، ذ، ر، ز، ژ، ړ، و» ختمې شوي وي. دا کار به ځکه کوي چې دغه توري له خپل مابعد توري سره نه نښلي. خو، په کار ده چې تر هرې کلمې وروسته فاصله ورکړو.
د مسافو په برخه کې په پښتو کې بله لانجمنه مسأله د فعلونو او مرکبو نومونو ده. «را نه غی»، «و به نه شي» «ګل مير»، «احمد جان» ... دلته که پوره فاصله ورکوو، په اصل کې واحده کلمه په څو ټوټو وېشو او که يې نه ورکوو، ګډوډي جوړوي. دا نه معلومېږي چې د چا نوم «احمد جان» دی که نوم يې «احمد» دی او مور له نازه «جان» ورسره ليکلی دی. پارسي ژبو د دې ستونزې لپاره نيمه فاصله جوړه کړې ده او په عبارتي فعلونو او مرکبو نومونو کې يې کاروي خو په پښتو کيبورډونو کې دا شی نشته. هيله ده چې د کمپيوټر ماهران به دا ستونزه راته حل کړي. که نيمه فاصله ولرو، «را نه غی» داسې ليکلی شو چې يوه کلمه راته وايسېږي او «احمد جان» هم له «احمد» «جان» څخه توپيرولای شو.
منبود
استاد عبدالله بختاني خدمتګار په يوه «الف» پسې سل ساعته وخت لګولی و. د ښاغلي بختاني د منظوم کليات د دويم ټوک په ۵۶۳ ام مخ کې د «څېرندوی» په نامه شعر راغلی دی:
په هفتو هفتو خوارى او زحمتونه په بستر کې هم تر نيمو شپو چرتونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

کتابخونو ته ورتګ هلته لټون په زړو نسخو کښې پاڼې او مخونه
د پلاني یا یې د پلار یا یې د زوی د ژوند وخت یا خو د مړینې تاریخونه
دا لا څه چې یو «الف» د پاره هم لا سل ساعته کار او زیار او کوښښونه...
تر دې نظم لاندې په لمنلیک کې لولو: «یو ځل ما غوښتل چې په دې وپوهېږم چې د پښتو د مشهور کلاسیک شاعر دولت الله لواڼي د پلار (داداو) په نامه کې دوهم «الف» شته او که نه؟ دې د پاره ما باید زړې قلمي نسخې کتلې وای. هغه د اطلاعاتو او کلتور د وزیر په امر کېده. درخواست مې ورکړ، هغه د کلتور په رییس امر ورکړ. دې کار پسې دفتر په دفتر ګرځېدم. دوه هفتې (د کار سل ساعته) وروسته مراد ته ورسېدم او د زړو قلمي نسخو په کتابخونه کې دا حق راته حاصل شو چې د دولت لواڼي دیوان وګورم او د یو «الف» په نفي یا اثبات وپوهېږم. دا د ۱۳۵۵ ام هجري شمسي کال قصه ده. په هغه وخت کې زه د پښتو ټولنې د رییس معاون وم.»
استاد بختاني تر هغې پورې چې اطمینان یې نه و موندلی، خپله هڅه او لټون یې جاري ساتلې وو. هاغه مهال موبایل او انټرنېټ نه و، د تګ راتګ وسایل کم و، خلکو به اوږده مزلونه په پښو پې کول خو بیا به یې هم خپله څېړنه نیمګړې نه پرېښوده، څه چې به یې ویل، دقیق به یې ویل.
د طالبانو تر پرځېدو وروسته چې د افغانستان دولتي تلویزیون فعاله شو، په یوه خپرونه کې یې د خلکو لېږلو پوښتنو ته ځوابونه ویل. چا د هېواد د ملي سرود د تاریخچې په باب پوښتنه کړې وه، ویاندې ریدا عظیمي ځواب ورکړ: «افغانستان د مجاهدینو د حکومت تر جوړېدو پورې ملي سرود نه درلود.» ممکن د خپرونې پروډیوسر به د تعصب له مخې د هېواد پخواني ملي سرودونه، د داوود خان د وخت «څو چې دا مځکه او اسمان وي» او د خلق دیموکراتیک ګوند د حکومتونو «ګرم شه لا ګرم شه» یو مخ خوړلي وو؛ ځکه هغه مهال ټولې دولتي اداري د شمالي ټلوالي په ولکه کې وې خو که د تعصب خبره هم وي، خلکو ته باید ناسم معلومات ورنه کړل شي.
د څېړنې کار خو هسې هم د مبنود کار دی خو تخلیقي اثار هم له لیکواله پوره دقت غواړي. د ښاغلي اجمل پسرلي «اوبو وړی» ناول چې هرچا لوستی، د نورو خوبیو له یادولو سره یې دا هم ویلي دي چې معلومات یې خورا دقیق او عین واقعیت دي. په دې ناول کې مرکزي کرکټر، یو ځل سازماني او خلقي وي، بیا پېښور ته ځي او مجاهد کېږي. هلته هم کله په یوه تنظیم کې کله په بل کې. کله سلفي شي، کله اخواني. بیا ایران ته ځي. بېرته افغانستان ته راځي چې د «ملي مصالحې» له نعمتونو استفاده وکړي، هلته یې ښه نه کېږي او بېرته پېښور ته درومي. بیا د مجاهدینو په حکومت کې کابل ته راځي، دولت کې وظیفه اخلي... دی په ډېرو مختلفو محیطونو کې له مختلفو خلکو او حالاتو سره مخامخ کېږي خو په ناول کې دغه هر ځای، هر محیط، هره ډله او هر حالت دومره دقیق انځور شوي دي چې سړی ګومان کوي هر څه یو مخ واقعیت دی. ښاغلی علم ګل سحر وایي: «اجمل پسرلي چې خپل ناول لیکه له هر چا به یې پوښتنه کوله چې په پلانکي وخت کې پلانکي ځای کې حالت څرنګه و؟ په دولتي ادارو کې به اجرات څرنګه وو؟ لارې څنګه وې؟ ... » د همدغو پوښتنو ګروېږنو او د لیکوال د خپلو دقیقو مشاهدو په برکت «اوبو وړی» خورا کامیاب ناول ګرځېدلی دی.
تکړه طنز لیکونکي عبدالنافع همت تر اوسه پورې څو ځله ماته ټیلفون کړی دی او د هغو طبي مسایلو په اړه یې رانه معلومات غوښتي دي چې په خپلو طنزونو کې یې راوړي دي. همت صاحب هم هڅه کوي چې ناسم معلومات په خپلو لیکنو کې ونه لیکي.
ویل کېږي چې نامتو فرانسوي لیکوال «ګوستاوفلوبر» د خپل یوه ناول د لیکلو لپاره زر کتابه لوستي وو. نو لیکوالي که په تحقیقي برخه کې وي یا په تخلیقي برخه کې، پوره مبنود غواړي. اوس چې له انټرنېټ په څو شېبو کې ډېر معلومات ترلاسه کولای شو، د ټیلفون له لارې کولای شو له مسلکي کسانو څخه دقیق معلومات واخلو، په ډېرو مسایلو کې په خپله ژبه کې کتابونه لرو نو که بیا هم لیکوال په خپل اثر کې ناسم معلومات ورکوي، له لوستونکي سره جفا کوي.

مسوولانه پیغام

د شیخ مصلح الدین سعدي دغه بیتونه خورا مشهور دي:

بني ادم اعضای یکدیګر اند
که در آفرینش ز یک جوهر اند

چو عضوی به درد آورد روزګار
دیګر عضو ها را نماند قرار

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دغو بیتونو ته که د هنري تلازماتو له دیده وګورو نو داسي څه به په کي ونه مومو چي هنري ارزښت ولري خو بیا هم دي بیتونو د ډېرو خلکو زړونو ته لاره کړې ده، ولې؟ ځکه چي عالي انساني پیغام په کي پروت دی. له دي ښکاري چي پیغام په هنر کي مهم ځای لري.
اوس راځئ داسي وانګېرو چي دا بیتونه سعدي نه بلکي چنګېز ویلي دي. که دا د چنګېز بیتونه وای نو بیا به هم همدومره اغېزناک وو؟ چنګېز داسي خونکار جنګیالی و چي په ځینو سیمو کي یې ټول ژوندي سري له تېغه تېر کړي دي ان دا چي د مېرمنو له نسه یې بچي راایستلي او وژلي دي. که چا ته د چنګېز دا ظلمونه څرګند وي او څوک ورته ووایي چي چنګېز په دي بیتونو کي د انسانیت او بشردوستی پیغام ورکړی دی نو هغه به بیتونو ته په کومه سترګه وګوري؟
دغه بل بیت وګورئ:

لا تر اوسه یي ماغزه په کرار نه دي
چا چي ما سره وهلی سر په سنګ دی

دا د خوشحال بابا بیت دی، هغه د توري سړی و، له مغلو سره یې ډېر جنګونه کړي وو، نو که هغه د توري خبره کوي سړي ته خوند ورکوي خو که همدا بیت رحمان بابا ویلی وای زموږ قضاوت به داسي نه و. رحمان بابا عارف سړی و نو ځکه یې پیغامونه هم له عرفان او له اسلام سره تړلي دي. لوی شاعران په پیغام کي د زړه خبره کوي، د دوی وینا او عمل سره غاړه غړی وي.
زموږ ځیني شاعران د پیغام په برخه کي د دې مثالونو اپوټه دي. یوه ورځ د نظامي اکاډمۍ په یونیفورم کي یوه شاعر د افغان ادبي بهیر په مشاعره کي داسي شعر ولوست چي ته وا دی طالب دی او همدا اوس له مورچله درسره خبري کوي، ده ویل: "سپیني ماڼۍ ته به دي اور واچوم"
یو بل شاعر ملګری مي دی، په کابل کي هوسا ژوند لري، لوکسه دریشي اغوندي، ما غوندي چټ پټ خریبلي ږیره ګرځي، د کابل له ارام او سوله ییز ژونده خوند اخلي، په یوه دفتر کي کار کوي، ایرکانډېشن ورته چالان وي، انټرنټ ته ناست وي او مزي کوي خو په شعرونو کي اجنبي ګواښوي، توره ستایي، د جنګیالیو صفتونه کوي او له وطنه د پردیو د شړلو اواز اوچتوي. د ده ځیني شعرونه داسي پیغامونه لري چي ممکن احساساتي ځوانان تر اغېز لاندي راولي او خطرناکو کارونو ته یې وهڅوي، حال دا چي شاعر هېڅکله دا نه غواړي.
یو خو له لویه سره شعر او شعار دواړه پر ځوانانو باندي زر اثر کوي او له بلې خوا زموږ ځوانان چي د اوږدې جګړي په منځ کي رالوی شوي دي، په اروایي لحاظ لازم ټیکاو نه لري نو ممکن عجولانه او د احساساتو تر اغېز لاندې تصمیم ونیسي او داسي چاري ته لاس پوري کړي چي هم ځان او هم نور ورباندې تباه کاندي.
موږ وینو چي ترهګري ډلي د تنکیو ځوانانو له احساساتو ناوړه استفاده کوي او په دوی باندي ځانمرګي بریدونه کوي. دغه زلمکي د پټرولو ډبکي ته ورته دي چي د چاودنې لپاره محض یوه سپرغۍ غواړي. که شاعر خپلې وینا ته سوچ ونه کړي دی هم په ناشعوري توګه همدا کار کوي.
که دغسي شعرونه هغه څوک ولیکي چي په واقعي ژوند کي هم له طالبانو سره ولاړ وي او د هغوی پر پله باندي پل کېږدي نو پیغام یې که هر څومره له خشونته ډک وي، چي هر څومره مرګوني پیغامونه ولري بیا به هم سړی ګیله ځني نه کوي، وایي به چي له هغه تر دې زیاته تمه نه شو کولی، خو هغه کس چي په زړه کي سوله ییز ژوند خوښوي او په خوله د توري شرنګ یادوي، ښه کار نه کوي. دا له انصافه لري ده چي سړی دې ځان ته ژوند وغواړي او نورو ته مرګ. شاعر د خپل پیغام په وړاندې مسوول دی، که د شاعر شعر د چا د مرګ سبب ګرځي، دی به د قاتل حیثیت ولري. شعر د انسان له عواطفو او احساساتو سره کار لري، شاعر باید تر نورو وګړو ډېر عاطفي انسان وي. عاطفه له مرګه کرکه لري، عاطفه سړی مینې ته هڅوي او د ژوند د بقا لپاره خدمت کوي. شاعر ته نه ښایي چي انسان ته د مرګ پیغام ورکړي.
نو راځئ مخکي له دې چي چا ته وینا وکړو، د هغې پر عواقبو باندې فکر وکړو او خلکو ته مسوولانه پیغام ورکړو.
موتیف او له ځانه غلا
اکثره شاعران په خپلو شعرونو کي ځیني موضوع ګاني او مفاهیم بیا بیا راولي. په دې برخه کي دوې خبرې کېږي:
موتیف او له ځانه غلا.
د ادبي سرقت یا ادبي غلا یو ډول دا دی چي شاعر یا لیکوال یوه نوې خبره پیدا کړي؛ خو همغه خبره بیا بیا په مختلفو ډولونو په بېلابېلو قالبونو کي وکوي. دا د کمزورو شاعرانو ځانګړنه ده؛ ځکه کمزوري شاعران د نوښت راخوټېدونکي چینې ته لار نه لري، لکه د باران اوبه چي د ځمکي په ژورو ځایونو کي ډنډ شي، دوی چېرته په یوه ژورغالي کي د نوښت اوبه ومومي او په لپه کي یې راواخلي، بیا چي هرې خوا ته درومي، هستي یې هماغه یوه لپه اوبه وي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

موتیف بیا هغه مفاهیم او موضوع ګاڼي دي چي شاعر ورسره شدید اشتیاق لري، شاعر ورته خورا لېواله دی او ډېر ځله یې تکراروي؛ خو هر ځل یې په بېل رنګ، په جلا انداز او په نوي خوند وړاندې کوي. د مبتکر شاعر ذهن لکه خود جوشه چینه وي چي وچېدا نه لري. د موتیف او له ځانه غلا تر منځ توپیر دا دی چي په موتیف کي موضوع هماغه وي؛ خو تصویر او مفهوم یې نوی.
د هندي سبک کم ساری کلاسیک شاعر کاظم خان شیدا د موتیفونو لپاره غوره مثال دی. دی ګڼ موتیفونه لري خو دلته به له ځمکي «حباب» او له آسمانه «آفتاب» راواخلو. حباب، دریاب او آفتاب د فارسي ژبې د لوی شاعر میرزا عبدالقادر بېدل په شعرونو کي هم ډېر لیدل کېږي. بېدل چي په فارسي کي د هندي سبک خورا نامتو استازی دی، دغه مفاهیم د وحدت الوجود فلسفې ته ګمارلي دي. دی حباب د بنده او دریا او بحر د لوی ذات لپاره د سېمبولونو په توګه کاروي. بېدل چي حباب او آفتاب یادوي، ډېر ځله تصویرونه نوي کوي؛ خو مفهوم یې هماغه وي. د ده په شعر کي تقریباً هر ځای د حباب چاودل، له خودی څخه د راوتلو او د بشر د فنا مانا ورکوي، حباب چي وچوي، له سمندر سره یو کېږي او همدا د وحدت الوجود فلسفه ده؛ خو کاظم خان شیدا چي فکر یې د تصوف په بند کي نه دی ایسار، هم نوي تصویرونه جوړوي او هم په هر تصویر کي نوی مفهوم ځایوي. دی د حباب په نازک بدن د ژوند د ډېرو اړخونو درانه بارونه وړي؛ خو تر منزل یې رسوي:

د افسر سره یې سر لکه حباب ځي
نه شي زیست د خسروانو بې افسره

دلته حباب له شاهي تاج سره تشبیه شوی دی. زموږ د سیمې په تاریخ کي ډېر کم داسي پاچاهان تېر شوي چي په خپل مرګ دي مړه شوي وي، دوی اکثره د خپل تاج په خاطر خپل سرونه خوړلي دي.

هر جرس یې دی حباب د هموار بحر
قافله په دا صحرا درومي خموشه

حباب پورته سیاسي مفهوم افاده کړی و؛ خو دلته فلسفي ته خدمت کوي. د قافلي جرس، د هموار یا آرام بحر له حباب سره تشبیه شوی دی او قافله د انسان د عمر مانا لري.
د شرقي تصوف یو عام بحث د دنیا له مال څخه لاس اخیستل دي. شیدا د همدی مفهوم د بیان لپاره حباب په دغو دریو بیتونو کي په مختلفو تصویرونو کي کارولی دی.

په دا شان به خالي لاس ورځني درومي
تهي دست لکه حباب راغلي و کور ته

یا:

انهدام یې د سیلاب په صدمه نه شي
چي خالي دی خپله خونه کړه حبابه

او یا:

چي اثر یې د بنا په ځای پرې نه ږدم
د حباب غوندې به وران کور د دنیا کړم

د دنیا له ناخوالو هر شاعر ګیله من وي او د آرام او سکون په هیله وي. شیدا دلته همدا خبره کوي او حباب ته نوی نقش ورکوي.

له تلخی یې جام نسکور لکه حباب وړم
چي راغلی یم ودي دریایي شور ته

په دې بل بیت کي بیا د حباب چاودل، د زړه د ماتېدلو مفهوم رسوي:

د دریاب له سرد جوشی د حباب زړه چوي
شیدا قطع دي امید بویه له خپلو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولۍ

په کلاسيکه شاعري کې د فنا او ناهيلی فکر غالب و؛ خو شيدا د بقا خبره هم کوي. دا حتمي نه ده چې حباب دې خامخا بايد وچوي، کاظم خان شيدا د حباب دوام يادوي او يو بل نوی مفهوم بيانوي.

په نرمۍ د سر دښمن د ځان دمساز کړم
په سېلاب لکه حباب عمارت ساز کړم

ځو پورې چې دی راز چا ته وي ويلي، خوندي به يي:

ځو يې نه وي دروازه د کور وا کړې
تر هغه په جمع دل کا حباب حظ

ارواپوهان وايي هغه کسان چې په ځان کې څه نه لري، د نورو د غولولو لپاره تجمل او سينګار ته پناه وړي، خپل ظاهر ښه لوکس جوړوي؛ خو د ننه خالي وي. شيدا همدا مسأله د حباب په وسيله ځومره ښه تمثيلوي:

پوشيده يې په پرده خپله هيڅې کړه
نور څه نه لري مستور حجاب هرګز

يا:

بلندي يې د حباب په شان يو دم ده
څه آماس لري د سر ناکس عجب

همدغه مفهوم په لږ توپير او په نوي تصوير کې وګورئ:

د حباب په شان تمام له شرمه آب شي
که يې لرې چړې باد د مخ نقاب کا

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ